**د لوست لپاره نور کتابونه وموموئ**

په بکسه شته کتابونه ډېرځله لوستل کېدای شي. خو تاسو نور کتابونه هم لوستلی شئ – د بېلګې په توګه، تاسو او ماشوم مو له کتابتون څخه نور کتابونه هم پور کولی شي. د کتابتون له مسول څخه او د خپل ماشوم له ښوونکي څخه د ښه کتاب پیداکولو لپاره مرسته وکړي.
تاسو کولی شئ نور کتابونه په www.aakb.dk/tags/temalister-boern-unge لینک کې پیدا کولی شئ. تاسو الکترونیکي او غږیز کتابونه په لاندې www.eReolen.dk کې پور کولی شئ.
دې لینک ته ستاسو د ماشوم یوزر نیم په کارولو سره، تاسو په www.eReolen.dk او www.superbog.dk کې لوستلی شئ. تاسو eReolen او eReolen Go د یو اپلیکیشن په توګه کارولی شې چې پرته له انټرنټ څخه کتابونه لوستل کېدای او غوږ ورته نیول کېدای شي.

**د لوستنې (READ) په اړه نور هم لوستلی شئ**

تاسو په لاندې ویبپاڼه کې د لوستنې (READ) – یوځای لوستنې په اړه او په نورو ژبو کې توکي پیداکولی شئ: www.aarhus.dk/read .

BØRN OG UNGE
Aarhus Kommune



# لوستنه

## سامین اوم لایسنینګ ای بورنیهیون

# لوستنه

سامین اوم لایسنینګ ای بورنیهیون





## تاسو د یو مور او پلار په توګه مهم یاست

د یو مور او پلار په توګه، تاسو د خپل ماشوم د پلټنې حس، د لوستنې خوند راویښ کړئ او په لوستنه او لیکنه کې د ښه کېدو لپاره د خپل ماشوم فرصتونه ډېر کړئ. دا چې ستاسو ماشوم په ښوونځي او په راتلونکي کې د ځرنګوالي لپاره لوستنه او لیکنه مهمه ګڼل کیږي.
کله چې تاسو له خپل ماشوم سره کتاب لولئ، د متن په اړه ورسره خبرې وکړئ او په ورځنیو فعالیتونو کې د لیکنې په برخه کې ورسره لوبې وکړئ. دا کار ستاسو له ماشوم سره د ژبې د مهارتونو او د لیکدود پوهې په پراختیا کې مرسته کوي.

## له خپل ماشوم سره یوځای لوستنه او خبرې وکړئ

تاسو به د خپل ماشوم لوی مرسته کوونکي یاست که چېرته له هغوی سره یوځای کتابونه ولولئ او له هغوی سره یوځای خبرې وکړئ. له کتاب لوستنې څخه مخکې، په جریان کې، او وروسته خبرې کول ښه خبر او نظر ګڼل کیږي. تاسو د انځورونو، لغاتو، محتوا او یا هر هغه څه په اړه خبرې وکړئ چې ستاسو ذهن ته راځي.
په کتاب کې د خبرو اترو کولو خوښه خپل ماشوم ته پرېږدئ. تاسو له خپل ماشوم سره د کیسې په جوړولو کې د کلماتو یوځای کولو او د تشریحاتو په روښانولو کې مرسته کولی شئ.
څومره پوهه چې د شیانو په اړه ستاسو ماشوم ترلاسه کوي او پر څومره ډېرو لغاتو باندې چې ستاسو ماشوم پوهیږي او کاروي، په همغه اندازه به ستاسو ماشوم د کتابونو پر محتوا باندې پوهیږي. دا مهمه ګڼل کیږي چې له هغو لغاتو څخه چې ستاسو ماشوم لپاره سخت وي مه تېرېږئ. هغه لغات او عبارتونه خپل ماشوم ته وروښیئ چې نه پرې پوهیږي.
کله چې تشریحي او څېړنیزې پوښتنې وکړئ، ستاسو ماشوم په فعاله توګه د کتاب په اړه په خبرو اترو کې برخه اخلي. د دې کار په کولو سره، د ماشوم د ژبې کارولو او وربандې خبرې کولو لېوالتیا ډېریږي. خپل ماشوم ته غوږ نیولو او پوښتنو ته یې د ځواب ورکولو لپاره وخت ورکړئ.
تاسو له خپل ماشوم سره پدې اړه چې کوم کلمات او حروف څنګه اواز لري او تلفظ کیږي خبرو کولو سره له ژبې څخه د ماشوم له آګاهۍ او پوهاوي سره مرسته کوئ.
کله چې تاسو د کتاب لوستل پای ته ورسول، وروسته تاسو متن پلټلی شئ. د بېلګې په توګه، تاسو هغه ډول کلمات چې یوشان تلفظ کیږي/اواز لري پیدا کولی شئ، او یا تاسو د خپل ماشوم له نوم له حروفو څخه په متن کې پیدا کولی شئ.
د لوستنې لپاره مرسته د "له خپل ماشوم سره څنګه کتاب ولولو" په پاڼه کې پیدا کولی شئ.
که چېرته تاسو له ډنمارکۍ پرته په بله ژبه خبرې کوئ، تاسو هغه ژبه د کتاب په اړه د خبرو کولو پر مهال کارولی شئ. تاسو له خپل ماشوم سره په هغه ژبه چې خبرې وکړئ ښه پرې پوهیږئ. تاسو کتاب په خپله مورنۍ ژبه هم لوستلی شئ.

## د لوستلو لپاره وخت او لېوالتیا

کله چې لګول شوی وخت د ستاسو او ماشوم تر منځ په زړه پورې تېر شي، ستاسو ماشوم به د کتاب په اړه د لوستلو او خبرو کولو خوند تجربه کړي. ستاسو ماشوم به لوستل وغواړي کله چې هغه ستاسو لېوالتیا تجربه کړي.
کله چې تاسو لوستنه کوئ، د مزاحمت او لاسوهنې څخه مخنیوی وکړئ. تاسو باید د یوځای لوستلو لپاره د ورځې وخت او ځای په پام کې ونیسئ. همدارنګه څومره چې امکان لري لوستنه وکړئ.
دا ښه خبر ده که چېرته یو کتاب څو ځله ولولئ. ځکه هر کله چې کتابونه لوستل کیږي، تاسو نوي کلمات او موضوعات موندلی شئ چې په اړه یې خبرې کولی شئ.
کله چې له خپل ماشوم سره مختلف کتابونه لولئ، له متنونو سره ستاسو د ماشوم لېوالتیا او پوهه ډېرېږي.

## له خپل ماشوم سره لیکنه وکړئ

کله چې ستاسو ماشوم وګوري چې تاسو د پلورنې لیست، ایمیلونه، متنیز پیغامونه او داسې نور لیکئ، هغه باید پوه شي چې کوم متنونه کارول کیږي او وروسته غواړي چې خپله یې ولیکي. خپل ماشوم پرېږدئ ترڅو د څپیز لرونکو خطونو او حروفو په لیکلو سره لوبه وکړي. دا غوره ده تر څو د ماشوم د لیکنې هڅې وستایې. پرېږدئ چې ماشوم مو د خپل ځان په اړه اظهارات لیکنې هم تجربه کړي.